# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد   بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم   از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com   afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



انجینر داؤد اڅک

۳۱ می ۲۰۱۹

## پښتو ژبې د ورځې په ویاړ

ژبه د پوهې، تجربو او افکارو د انتقالولو او د افهام او تفهیم یوه وسیله ده. څکه نو ژبه د انسان په ژوند کې لومړی ضرورت بلل سویدی. پر همدې بنسټ د هر انسان طبيعي او مسلم حق دی چې د خپلې مورنی ژبې د پراختیا، غنا او ښکلا لپاره کار وکړي.

داچې نن د می ۲۹ نیټه د پښتو ژبې بین اللملي ورځ ده نو ټولو پښتنو ته دا لازمه ده چې دغه ورځ ولمانځي او پښتو ژبې د پراختیا، ښکلا، غنا او ترویج لپاره کار وکړي څو وکړای سو چې پښتو یوه سیاله ژبه کړو. خو هیڅ یوه ژبه په ځانګړي ډول پښتو ژبه په شعارو، اتنو او د پخوانیو مسائلو په تکرارو سره نه بډایه کیږي، نه ښایسته کیږي او نه هم پراختیا مومي بلکه پښتو او پښتانه باید نوي، علمي، ښکارهنګي (کلتوري) او تخنیکي تولیدات ولري.

د ساري په ډول که تلویزیون پښتنو جوړ کړی وای او س به د نړۍ په ټولو ژبو کې په هغه نامه یادیدلای کوم چې پښتنو پر ایښی وو . همداسې ځنې غیر تخنیکي بهرني اصطلاحات په پښتو ژبه کې ډیر دي چې کیدای سي د هغه هم مثله ښکلې کلیمه جوړه او په پښتو ژبه کې رواج سي څو موږ وکړای سو چې هم د علم او تخنیک او هم د نیولوجیزم په مټ پښتو ژبه سیاله ژبه کړو.

د پښتو ژبې د پرمختګ او بډاینې نه مخکې تر ټولو دا خبره اړینه ده چې پښتو ژبه باید د سیاسي کیدو ښخه وژغورو او پرې نږدو چې پښتو د نابودی، بې اتفاقی او بدرنګی کندې ته ورولویږي څکه چې اوس یو بین اللملي ارتجاعي د پښتنو او افغانانو د پرمختګ او وحدت ضد ګروپ په غیر مستقیم ډول فعالیت کوي او غواړي چې پښتو ، پښتانه او په ټوله کې افغانان په بیلو بیلو ډولو سره بدبینه او په خپلو منځو کې ئې سره وویشي. دغه بین اللملي ګروپ چې د افغانستان ګاونډیان مرکزي رول پکې لري په ډیر مهارت سره کوښښ کوي چې ټول هغه لیکوالان، عالمان، د نظر خاوندان او هیواد دوسته سیاسیون په بیلو بیلو نومونو سره تخریب یا د منځه یوسي کوم چې ددوی د سیاسي، استخباراتي او ګروهي شومو اهدافو خلاف دي، پښتنو او افغانانو ته د یوالي او پرمختګ زیری ورکوي او همداسې د پښتو د پرمختګ او پښتنو د تنویر، بیداری او واقعیي خوشبختی لپاره فکر او مبارزه کوي. متأسفانه چې زه یو ددغو قربانیانو ښخه یم چې بیله کومې بهانې ښخه د نوموړي بې رحمه ګروپ ښکار سوی یم او په بیلو ځایو کې په رنګارنګ نومونو سره تخریبیږم حتا پدې ورستیو وختو کې ئې په ځینو ویب سایټو کې زما د لیکنو د خپریدو مخنیوی هم کړیدی خو د خوښی ځای دی چې بیا هم زما لیکني په هغه ویب سایټو کې خپریږي کوم چې مسؤلین ئې وطندوسته، با احساسه او مستقیل شخصیتونه دي.

اوس زما عرض دادی که غواړئ چي پښتو ژبه هر اړخیزه پرمختګ وکړي او پښتانه د جهل او بې اتفاقی  د اوره څخه نجات پیدا کړي نو د خپلو ملي او معنوي ارزښتونو احترام وکړئ او د خپلو هغو اصیلو خدمت ګارانو، لیکوالانو، شاعرانو، عالمانو  او مؤمینو سیاسینو ملاتړ وکړئ کوم چي پښتو ، پښتنو او په ټوله کي افغانانو ته نوي وسایل او  مسایل  تولیدوي نداچي د خپلو سیاسي او ګروهي ګټو پر بنسټ ټول معیارونه تر پښو لاندي سي او د ناا هلو اشخاصو په دفاع کي ودریږئ . بیا به یو وخت ارمان کوو خو ناوخته به وي.

۲۹ – ۵ - ۲۰۱۹